# پښتو افسانه
## (د یوولسم ستمبر ۹/۱۱ نه پس)

**Dr. Mazhar Ahmad***

**Dr  Ali Khel Daryab****

**ABSTRACT:**

*The accident of ۹/۱۱ shacked the scenario of the entire world. It influenced the United States as well as the others nations from the East and West. Also cast an enormous change in the subjects of the world wide literature. This change is also seemed in the Pashto literature too. Especially in the genre of short story, it is so noticeable and clear. Which brought the new topics with a new style in the field of short story's writing. This research paper is going to through light on the changes occurred in the Pashto short story after the accident of ۹/۱۱.*

په تاریخ کښې داسې ډېرې پېښې مخې ته راغلې دي چې هغې د سود او زیان او خېر او شر پیمانې بدلې کړې دي۔ تاریخي حادثې په خپل وجود کښې مثبت اثرات هم لري او منفي هم۔ په ټولنه، ژوند او ادب د تاریخي اثراتو نتیجې کله خو ځان سره ګټې هم راوړي او کله کله نقصان او خطرې هم۔ خو دا خبره جوته ده چې تاریخي پېښې او حادثې د یوې ټولنې په وګړو خپل اثرات ضرور مرتب کوي۔ دغه حادثې د ژوند او ادب زاویه هم بدلوي او ټولنه کښې د وګړو د ژوند ژواک هم په بله اړوي۔

---

* Assistant Professor, Department of Pashto University of Malakand

** Chairman Department of Pashto University of Malakand

د نړۍ په تاریخ کۀ نظر واچولے شي نو په مختلفو وختونو کښې د مختلفو اولسونو ژوند او ادب د تاریخي حادثو سره خپل مخ بدل کړې دے ځکه چې د ادب په حقله د پوهانو ګډه رایه داده چې ادب د ژوند ترجمان وي او ښرګنده خبره داده چې په یوه ټولنه کښې څنګه د اولس ژوند وي هم هغسې ترجماني به ئې په ادب کښې کېږي ـ په ژوند او ټولنه کښې کۀ خوشحالي، امن او سکون وي نو ادب به ئې هم هغسې نقشه وړاندې کوي ـ او په ټولنه او اولس کښې کۀ اړے ګړے، بدامني او انتشار وي نو ادب کښې به ئې تصویر هم هغه شان وي ـ په دغه تناظر کښې تاریخي حادثې چې د ټولنه او اولس په کوم طرف بوځي نو ادب به ئې هم هغسې ترجماني کوي ـ

په دغه حواله کښې کۀ مونږ د پښتنو ژوند او ادب ته ځیر شو نو وړومبې خبره خو دا مخې ته راځي چې د پښتنو ژوند د حادثو او پېښو نه ډک دے او بیا کله چې د دغو تاریخي پېښو او حادثو اثرات په پښتو ادب کښې لټؤو نو یو ښرګند عکس ئې دلته هم په نظر راځي ـ لکه څنګه چې په تېره صدۍ کښې دوه نړیوال جنګونو د مغرب او مشرق په فکري رویو، فلسفو، او نظریو باندې اثرات پرېباسلي دي او په پائله کښې ئې د انسان جذبات او احساسات ښومره لړزولي دي، هغه په څه نه څه حالت کښې د نړۍ د ټولو ژبو په ادب کښې ښرګند شوي دي.

د یوویشتمې صدۍ په وړومبي کال ۲۰۰۱ء د ستمبر د میاشتې په یوولسمه نېټه (۱۱/۹) په امریکه کښې په وړلډ ټرېډ سنټر او پېنټاګون حملو یو ځل بیا د نړیوال جنګونو په شان ټوله دنیا اولړزوله، چې په نړۍ کښې د ۱۱/۹ په اصطلاح یادېږي ـ

> "The September ۱۱, attacks were a series of four coordinated suicide attacks upon the United States in New York City and the Washington D.C. area on September ۱۱, ۲۰۰۱. On that Tuesday morning, ۱۹ terrorists from the Islamist militant group al-Qaeda

hijacked four passenger jets. The hijackers intentionally flew two of those planes, American Airlines Flight ۱۱ and United Airline Flight ۱۷۵, into the North and South towers of the World Trade Center Complex in New York City, both towers collapsed within two hours. Debris from the collapsing towers fell into or initiated fires I several surrounding buildings leading to the partial or complete collapse of all the other buildings in the complex. Debris also caused major damage to ten other large structures in the immediate area. The hijackers also intentionally crashed American Airlines Flight ۷۷ into the Pentagon in Arlington, Virginia and intended to pilot the fourth hijacked jet, United Airlines Flight ۹۳, into the United States Capitol Building in Washington D.C. Its passengers tried to overcome the hijackers and the crashed into a field near Shanksville, Pennsylvania. Nearly ۳,۰۰۰ people died in the attacks”.
۱

ترجمه:

"د یوولسم ستمبر(۱۱/۹) حملې د هغه ځلورو خودکشو حملو لړۍ ده کومې چې د امریکې په نیویارک او واشنګټن ډي سي شوې وې .د دغې نهې په سحر د اسلامي جنګیالۍ ډلې القاعده نولس ترهګرو د مسافرو ځلور جټ جهازونه اغوا کړل، اغوا کارو شعوري طور د دغې نه دوه غټ جهازونه امریکن فلائټ ۱۱ ائرلائن فلائټ ۱۷۵ د ورلډ ټریډ سنټر کمپلیکس نیویارک ښار سویلي او قطبي منارونو پله والوځول. دواړه منارونه په دوه ګهنټې کښې تباه کړې شول. د تباه شوؤ مینارونو ملبه راپرېوته، خواؤشا عمارتونه وسوزېدل، او ددغې ودانۍ څه عمارتونه جزوي طور او څه په

بشپړ ډول تباه شول ـ دغې ملبې د ملحقه لسو نورو ودانو ته زښت زيان ورسؤ، اغوا کارو امريکن ائرلائن فلائټ ۷۷ په پېنټاګون (ارلنګټن ورجينيا) کښې تباه کړو ـ څلورم جهاز يونائيټډ ائرلائن فلائټ ۹۳ د يونائيټډ سټېټ کيپټل بلډنګ واشنګټن ډي سي پله والوځ خو د جهاز سورلۍ په اغوا کارو زورورې شوې او جهاز د شينکسويلی په يو مېدان کښې تباه کړې شو ـ تقريبًا درې زره کسان ددې حملو ښکار شول" ـ

ددې پېښې تباهي که څه هم د نړيوالو جنګونو نه کمه نه وه خو په ټوله نړۍ کښې ددې نتيجې اثرات ډېر کړکېچن او غمژن ؤ ـ او هم دا وجه وه چې په نړيوال ادب په عمومي توګه او په پښتو ادب په خصوصي توګه مزاحمتي رويې اوزېږېدې ـ د يوولسم ستمبر (۹/۱۱) د پېښې د اثراتو جائزه په ادبي، لساني، عمراني، سياسي او تاريخي حوالو سره اخستلے شوې ده ـ د پښتو ژبې په نثري اصنافو کښې افسانه يو داسې صنف دے چې پښتنو ليکوالو ورته خصوصي توجه ورکړې ده ـ د يوولسم ستمبر نه پس پښتو افسانه د دې سيمې د سياسي حالاتو زول په مخه اخستې ده ـ په دې اړي ګړي کښې لکه څنګه چې هر ذهن د بې چېنۍ او بد امنۍ ښکار شوے دے زمونږ د افسانه نګارو سوچ هم لمبه شوے دے ـ په دغه تناظر کښې مونږ په پښتو افسانه کښې د يوولسم ستمبر (۹/۱۱) د اهمې تاريخي پېښې عکس لټوؤ او ګورو چې په پښتو افسانې ددې پېښې اثرات څۀ دي؟

غيب عالم:

"غيب عالم" د ماښام خټک په علامتي ژبه د ملک په واکدارانو يو طنز دے ـ افسانه د پاکستان د جوړېدو نه تر دې دمه پورې نقشه زمونږ مخې ته وړاندې کوي ـ په افسانه کښې ښودلے شوي دي چې شين سترګو څه رنګ له د خپلو مفادو ترلاسه کولو دپاره طالبان اوزېږول او بيا د يوولسم ستمبر (۹/۱۱) نه پس څه رنګ له په دې سيمه اور بل کړے شو ـ په افسانه کښې د طالبانو دپاره د

"غيب عالم" اصطلاح استعمال شوې ده او د ملک د يو مشر واکدار دپاره "سنتري" ټکے پکار کړے شوے دے افسانه نګار ليکي چې :

"د سنتري دا کور چې خلقو به وئيل چې ډېر درونـد دے او غيب عالم په کښې اوسېږي او د خلقو دا هم يقين وو چې دا غيب عالم خپل شکلونه بدلولے شي او د ځانه هر څه جوړولے شي او دوي ته به داسې ښکار ېدل لکه چې دې خلقو ته به داسې په نظر راتلل لکه چې د سرو او تورو مېږو يو نه ختمېدونکے قطار چې خلې به ئې د قسمه قسم خوراکونو ډکې وې دې کورته ننوتل او ددې کور په بله دروازه به د برکلي محلت سره خوا کښې کور کښې په سوړو ننوتل ـ د کلي دې خلقو به هم خپل وړۀ مړۀ او د روټۍ ځځوزي مځوزي دې مېږو ته د ثواب په نيت په لارو او سوړو کښې اچول چې سبا ئې د ژمي په يخو شپو ژړو مړو کښې پکار راځي "ـ[۲]

اوس چې کله د شين سترګو مفاد تر لاسه شول نو ددې سنتري په مدد ئې دا تور او سرۀ مېږي ختمول غوښتل خو:

"ولې دا مېږي اوس د لوئې کلي په هر کور او هر محلت کښې خوارۀ شوي وو او کله به ئې د چا پښو او کله به ئې د چا په لاسونو او کله به ئې د چا په وجودونو چکونه لګول او خصوصاً د سنتري په کور کښې ئې بې شماره سوړې لرلې ولې اوس نۀ سنتري ته او د لوئې کلي شين سترګو ته چل ورتلو چې څۀ ورسره وکړي "ـ[۳]

دې افسانه کښې په علامتي ژبه د يوولسم ستمبر نه پس د پښتنو په سيمه د بدامنۍ يو خاکه وړاندې کړے شوې ده ـ

خودکش:

د یوولسم ستمبر (۱۱/۹) نه پس د پښتنو په سیمه رامخې ته شوي صورتحال په وجه پښتانهٔ د یو شمېر نفسیاتي او ذهني ستونزو ښکار شوي دي ـ د دغه نفسیاتي ستونزو ځرګندونه پښتو افسانه نګارو په خپلو افسانو کښې هم کړې ده ـ سید یاسر علی شاه یاسر زلمے افسانه نګار دے ـ "خودکش" ئې د یوولسم ستمبر (۱۱/۹) نه پس د دغه نفسیاتي مسئلو په ترځ کښې لیکلې شوې افسانه ده ـ د قیصې مرکزي خیال کښې افسانه نګار د هغه نفسیاتو ښکارونه کړې ده د کومو چې نن سبا ټول پښتانهٔ ښکار دي ـ د افسانې کردار ګل ولي خپل دوستان او مشر ورور په بمونو او خودکش چاؤدنو کښې خاورو ته سپارلي وي ـ چې د هغې ورځې نه پس د هغهٔ په اعصابو او ذهن یوه داسې ویره خوره وي چې د بنده پرې د لېوني یا نفسیاتي مریض یقین راځي ـ ښار ورته خونړی بلا ښکارېږي چې د انسانانو غوښو باندې پائي ـ خو بیا هم د غریبۍ او بې وسۍ له وجې ښار ته مزدورۍ له لاړ شي ـ د بم چاؤدنو او خودکش بریدونو ویرې د هغهٔ په لاشعور کښې قلعه جوړه کړې وي ـ د خوب په دوران کښې چې د هغهٔ د کټ په خوا کښې د چا د لاس نه د پیتلو لوخے یا څه بل څیز پرېوځي نو هغه داسې چغه کړي لکه چې ددهٔ په خوا کښې چې ځان مرګې برید شوې وي ـ یوه ورځ چې د مزدورۍ نه فارغه شي نو ځان زر تر زره کلي ته رسول غواړي ـ د ښار په ګڼه ګوڼه کښې ډېر په ویره روان وي ـ افسانه نګار دغه منظرکشي داسې کوي:

> "او چې د څو دوکانونو نه راواوړېدو، چې په دې کښې درز شو او چې څه وخت فائر برګېډ والو د سلنډرو په دوکان لګېدلے اور مړ کړلو نو دوه درې فرلانګه لرې څهٔ خلق د یو لاش نه ګېر چاپېره ولاړ وو ـ چې په بدن ئې هېڅ د زخم نشان نه وو ـ او داسې ښکارېده چې د خودکش د یرې د هغهٔ زړهٔ ټکړې ټکړې له ځان سره په پورته وړے وي" ـ [۴]

دې افسانه کښې لیکوال د هغه ټولو نفسیاتي ستونزو عکاسي کړې ده کومې چې د یولسم ستمبر نه پس د پښتنو په مرۍ لکه د خپسې ناستې دي ـ

د هر تصویر نه وینې څاخې:
طاهر اپریدے د پښتو د تخلیقي نثر یو پیاوړے لیکوال دے چې د سفرنامې، رپورتاژ، ناول او افسانې په مېدان کښې ئې د پښتو ادب ته ډېرې بخښنې کړې دي خو دنثري ادب په مېدان کښې هم د هغۀ د شناخت حواله افسانه ده ـ طاهر صیب د پښتو افسانې په مېدان کښې ګڼې تجربې هم کړې دي او ګڼو موضوعاتو ئې هم افسانې لیکلي دي چې یوه اهمه موضوع پکښې د (۱۱/۹) د حادثې په تاثر کښې افسانې لیکلې دي ـ د هغۀ دغه قسمه افسانې عمومًا د هغۀ په کتاب "د څو لحظو لویه قیصه" کښې خپرې شوې دي کوم چې په کال ۲۰۰۸ء کښې د جرس ادبي جرګې کراچۍ لخوا چاپ شوے دے ـ دغه کتاب نه علاوه هم د طاهر اپریدي صیب ګڼ شمېر افسانوي مجموعې دي چې څو افسانې پکښې د ۹/۱۱ د واقعې په تاثر کښې لیکلے شوې ښکاري ـ لکه د ښاغلي په افسانوي مجموعه "د څو لحظو لویه قیصه" کښې د هغۀ افسانه "د هر تصویر نه وینې څاخې" د دې موضوع سره متعلقه اهمه افسانه ده ـ په دې افسانه کښې د یو مصور د تصویرونو د نمائش په قیصه کښې نیغ په نیغه د امریکې د صدر یوه داسې رویه مخې ته راوستے شوې ده چې هغه د پښتون اولس په سیمه کښې د ابادۍ او سوکالۍ تصویرونه نۀ زغمي او په دغه جرم د ګوتتاناموبې جېل ته هم پښتانۀ لېږلے شي ـ

طاهر صیب د دغه افسانې ابتداء د یو داسې تصویري مقابلې د دعوت نه کوي چې دعوت د ملک د صدر له خوا وي او د دغه مقابلې نه پس د تصویري نمائش افتتاح به د امریکې صدر کوي ـ او بیا چې کوم مصور د امریکې د ظلم خاکه او خپل وطن کښې د خوشحالۍ او امن خواهش د هنر په ژبه بیانوي نو د امریکې صدر څۀ حکم کوي؟ د افسانه نګار په ژبه ئې د افسانې په وروستۍ برخه کښې وګورئ:-

> "د دې تصویر خالق دوه ورځې کښې دننه ګوتتاناموبې ته راؤرسوئ ـ" او چې هغه شاهکار تصویر ئې

ټوټې ټوټې راټول کړے شو نو تصویر کتونکي بس دومره پوهه شو چې دې تصویر کښې په رنګینه مخملي زمکه یو کچه ماشوم په نري مسکي انداز مخ په وړاندې په داسې رنګ ګوري لکه د ژوند وړاندې مخه کښې ورته څۀ ښۀ امیدونه اشارې کوي ـ او بل خوا یوه ورکوټې شان ډیوه داسې شان بلېدله چې د رڼا پلوشې ئې په ټوله نړۍ خورې ښکارېدلې ـ ورسره د څو تازه غوړېدونکو ګلونو یو ښکلې غنچه هم ښکارېدله او بل طرف ته یوې تکې سپینې کوترې خپله نرۍ ښائېسته مخوکه کښې د زېتون تازه څانګوړے نیولے ؤ ..... خو خدائے خبر چې د نړۍ تر ټولو زیات د امن علمبردار مملکت لوئے مشر او دروند مېلمه باندې دغه ساده او عام تصویر ولې دومره بد ولګېدو چې خپله ټوله مېلمستیا ته ئې د ټولو ادابو په ضد د حقارت لته ورکړه او هم په هغه درنګ په خپل خصوصي طیاره کښې د خپل عظیم ملک په لور والؤتو. او د عزتمند دروند او د شریک کلي د حکمرانې خوب لیدونکي مېلمه په حکم بله ورځ په غذابي زنځیرونو تړلے د امن او ازادۍ خیال لرونکے مصور د ګوتتاناموبې په لور په پټو سترګو روان کړے شو.“ ۵

**هلمند:**

د ۹/۱۱ د واقعې اثرات د سیده حسینه ګل په څنو افسانو کښې هم په نظر راځي ـ د هغې افسانه ”هلمند“ د افغانستان د موجوده حالاتو په تناظر کښې لیکلے شوې ده چې د هغې په افسانوي مجموعه ”نیمګړے کتاب“ کښې چاپ ده ـ په دې افسانه کښې مرکزي کردار د یوې داسې افغانې جینۍ دے چې د ۹/۱۱ د واقعې نه مخکښې پاکستان ته د مهاجرت په بهیر کښې راغلي وي خو په خپل وطن کښې د هغې مینه هلمند سره وي ـ پاکستان کښې هغه بل

چاته واده شي او د خپلې مينې د يادګار په توګه د خپل زوي نوم هلمند کېږدي ـ د دې مرکزي کردار نوم ډيوه وي ـ د يوولسم ستمبر(۱۱/۹) نه پس چې کله نړيوال قوتونه دا دعوی اوکړي چې افغانستان کښې امن راغلو نو ډيوه خپل وطن افغانستان کښې خپلې سيمې هلمند ته لاړه شي چې خپل زوے هلمند ته خپله سيمه "هلمند" وښائي ـ خو هلته افغانستان او هلمند د ۹/۱۱ د واقعې د انتشار په وجه تباه او برباد ووينې ـ

"د يو راکټ حمله شوې وه ـ ډېر مرګ ژوبله ئې کړې وه ـ ډيوه په زخمي حالت کښې په افغانستان کښې وه ، هغې چې څنګه سترګې وغړولې نو خپل هلمند او د سر سورے ئې ونۀ ليدل ـ هغې په وار خطايۍ لکه د ليونو چغه کړه:

زما هلمند او زما خاوند........!!!

نزدې په کټ يو زخمي ورته د هلمند او د هغه د پلار د مرګ استازے ورکړو او ډيوې داسې وګڼله لکه چې نن هغې د خپل وطن تاريخ يو ځل بيا په خپله مينه او په خپله وينه ليکلے وي". [۲]

د افسانې د مرکزي خيال په توګه دا ښودلې شوي دي چې د يوولسم ستمبر نه پس د افغانستان حالات نور هم خراب شول ـ افسانه نګاره د دغه تباه حال وطن ترجماني په بشپړه توګه کوي او د يوولسم ستمبر(۱۱/۹) نه پس د حالاتو سمه سوچه نقشه راکاږي ـ

نکريزې که........... :

د پير جهانزيب افسانه "نکريزې که...."د يوولسم ستمبر نه پس د جاري بمي چاؤدنو په حقله ډېر ښکاره او کوټلے صورتحال وړاندې کوي ـ دې افسانه کښې ښودلې شوي دي چې څنګه بې ګناه او معصوم اولس د دغه چاؤدنو ښکار کېږي ـ دغه افسانه کښې رفيق خان او سيفور بابا د بس په سفر کښې يو بل سره پېژندګلو وشي ـ چې کله لاهور ته ورسي نو سيفور بابا سره د خپل زوي

جاوید خان او نورې کورنۍ په شیراز هوټل کښې دېره شي او رفیق د خپلو رشته دارو کره وادۀ له لاړ شي او سیفور بابا او د هغۀ کورنۍ ته د وادۀ بلنه هم ورکړي. د خالي په ماسخوتن د نکریزو پروګرام وي:

"اووۀ بجې ماښام د ښار په یوه حصه کښې بلې شمعې په سر جینکو د وادۀ د نکریزو لوبې وئیلې او بل اړخ ته د سائرنونو په شور کښې خلقو د یو بل خبرې نه اورېدې. یوه الاګوئي جوړه وه. هر طرف ته ګُګوان غرېدل او هېڅ پته نه لګېده.

خلقو د شیراز هوټل په لان کښې د بنیادمو د وجودونو ټوټې قطرې رایو ځائې کولې. د نیم الوتي وجود د ترخ جیب نه بیا بیا د موبائیل د ټلۍ اواز راختلو. یو پولیس افسر موبائیل آن کړو. د مخالف سمت نه اواز راغے وې هېلو! رفیق خبرې کوم.

جاوید خانه موټر مې دراولېږلو. وادۀ له ځان راورسوئ، خامخا راشه چرته پاتې ............او

پولیس افسر رومال سترګو ته اونیوۀ، وې ساري، ویري ویري ساري". ۷

د افسانې د مرکزي خیال په توګه مونږ دا نتیجه اخستلے شو چې د یوولسم ستمبر (۱۱/۹) نه پس څه رنګه بې ګناه کورنۍ د بمونو په چاؤدنو کښې اوژلې شي. دا محض یوه کورنۍ نه ده، د دغې کورنۍ په شان په زرګونو کورنۍ وژلې شوي دي.

د جنت مرغۍ:

د افغانستان ځواني لیکوالي وړمه سبا عامر هم د یوولسم ستمبر په تاثر کښې په پښتو افسانه خپله طبع ازمائیلې ده. "د جنت مرغۍ" نومې افسانه کښې ئې هغه ټول پس منظر وړاندې کړے دے چې ځان مرګي برید کوونکي

څنګه د دغه تنظیمونو په لاس ورشي ـ په افسانه کښې یو ښځونک شبانه ده چې د عمردراز په لاسو ورشي او هغه ئې قوماندان ته ورسوي څوک چې یو ځان مرګي برید په اړه منصوبه جوړوي ـ دلته د شبانې ذهني روزنه وکړے شي او بیا د پېښور مینابازار ته د ځان مرګي برید له پاره ولېږلے شي ـ افسانه نګاره د پېښور په مینابازار کښې د شبانې په حقله لیکي:

"هغه خفه وه، د مینابازار ښائسته ښائسته دوکانونو ته ئې کتل، په سوچ کښې وه چې نیم ساعت وروستو به دا دوکانونه ټول رنګ وي، دا ځواني جینکۍ په زمکه بې ځانې پرتې وي او دا به د یوه ډله خلقو سره په جنت کښې ناسته وي، نه به دا شور وي او نه به دا خنداګانې وي، دلته به اورونه بل وي او دا به له آسمانه ورته ګوري" ـ[۸]

ډاکټر محب وزیر د دې افسانه په اړه لیکي چې:

"دغه افسانه کښې که یو خوا دا ښودل شوي دي چې ګنې د ښځونکو ژوند هر چرته تریخ او د ستونزو نه ډک دے چې هر کله هغه سمځې ته بوتلله شي نو هم ئې قوماندان تر ټولو د مخه ځان ته وګډوي، نو بل خوا دا هم ښائي چې یو داسې مخلوق چې ګړد عمر ئې د خلقو د خوشحالۍ اهتمام کړے دے او ګړد عمر ئې د پُرامنه ژوند د تېرولو هڅې کړي دي، څنګه تیار کړل شي چې د خپل ځان سره په سلګونو نور انسانان هم والوزوي" ـ[۹]

د تېرو بحثونو په نتیجه کښې مونږ ته دا خبره راډاګې ته کېږي چې د یوولسم ستمبر د پېښې اثرات په پښتو افسانه ښۀ په واضحه توګه ښکاري ـ د (۱۱/۹) د پېښې نه وړاندې چې پښتو ادب کښې کومې افسانې لیکلې شوي دي د هغې عمومي موضوعات د پښتنو کلیوال معاشرت، اولسي ژوند ، قبائلي مسئلې، دشمنۍ او تربګنۍ پاتې شوي دي ـ خو د ۱۱/۹ پېښې د پښتو افسانې

موضوعات بدل کړل ـ نوي نوي وختونه نوې نوې مسئلې او کشالې راوړاندې کوي ـ پښتو افسانې په هر دور کښې د نوؤ مسئلو او کشالو عکاسي کړې ده او دغه ټولې کشالې ئې خپل ځان کښې جذب کړې دي ـ څه افسانې نېغ په نېغه د دغه اثراتو په ترڅ کښې اوليکلې شوې او څه افسانې داسې هم وې چې په کښې په علامتي ژبه د دغه بدامنۍ او ترهګرۍ غندنه اوکړې شوه ـ په دې مقاله کښې د پښتو افسانې د نوي بدل شوي هئيت او ماهئيت جائزه اخستلې شوې ده ـ د دغه افسانو د جائزې نه پس مونږ ته واضحه شوه چې د يوولسم ستمبر(۹/۱۱) نه پس څنګه پښتون اولس او پښتون افسانه نګار متاثره شوے دے ـ او په دغه تناظر کښې د پښتو افسانې نوي موضوعات، نوې مسئلې او نوے اسلوب پښتو ادب ته راداخل شو او پښتو افسانه د يو انقلابي بدلون سره مخ شوه ـ دغه بدلون مونږ دې نتيجې ته هم رارسوي چې پښتون افسانه نګار په خپل ماحول او ټولنه کښې د شر، فساد او ترهه ګرۍ غندنه کوي او د سولې او امن طلبګار دے ـ

# حوالې

[۱] https://en.wikipedia.org/wiki/September_۱۱_attacks
[۲] ختهک، ماښام، غیب عالم، جرس ادبي جرګه کراچۍ، ۲۰۱۴ء، ص ۳۲
[۳] هم دغه، ص ۳۳، ۳۴
[۴] یاسر، یاسر علي شاه، سید. پردۍ سترګې، ۲۰۱۴ء، ص ۹۴
[۵] اپریدے، طاهر، د څو لحظو قیصه، جرس ادبي جرګه کراچۍ، مۍ ۲۰۰۸ء، مخ ۵۹
[۶] حسینه ګل، نیمګړې کتاب، پېښور، دانش خپروندویه ټولنه، اپریل ۲۰۱۰ء، ص ۱۱
[۷] جهان ریب، پیر، شلېدلي زنځیرونه، پرنټ ماسټر بټ خېله، ۲۰۰۸ء، ص ۱۴۶، ۱۴۷
[۸] سباعامر، وږمه، د قیامت نه پس، دانش خپروندویه ټولنه پېښور، ۲۰۱۳ء، ص ۷۰، ۷۱
[۹] وزیر، محب، ډاکټر، په پښتو ناول او افسانه د یوولسم ستمبر اثرات، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچا خان پوهنتون چارسده، ۲۰۱۵ء، ص ۱۲۱